إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، قَالَ: يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟

له صهيب رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، قَالَ: يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ فَيَقُولُونَ: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ، وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ». «وايي: كله چې جنتيان جنت ته داخل شي، نو الله – تبارک وتعالى- به وفرمايي: ايا تاسو اضافه څه غواړئ چې زه يې درکړم؟ دوى به ووايي: آيا زمونږ مخونه دې ندي سپين کړي؟ آيا مونږ دې جنت ته نه يو داخل کړي، او له اور څخه دې نه يو ژغورلي؟ وايي: بيا به الله پرده لرې کړي، نو دوى ته به د خپل رب – عزوجل- له کتلو څخه محبوب څيز بل نه وي ورکړل شوى».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې کله جنتيان جنت ته داخل شي نو الله تعالى به ورته ووايي: آيا غواړئ چې نور څه در زيات کړم؟ نو ټول جنتيان به ووايي چې: آيا زمونږ مخونه دې سپين نه کړل؟ آيا مونږ دې جنت ته داخل نه کړو او له عذاب څخه دې ونه ژغورلو؟ نو الله تعالى به پرده لرې کړي او پورته به يې کړي؛ د هغه حجاب يا پرده نور دى، نو دوى ته به له دې بل محبوب شى نه وي ورکړل شوى چې خپل رب ووينې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8344